# د راپور لنډیز

په ۱۳۹۵ کال کې د افغانستان په هکله له بروکسل کنفرانس څخه مخکې د افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر د افغانستان عایداتي وزارتونو ته لارښوونه وکړه، چې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې پلانونه جوړ کړي، تر څو د دوی په کړنو او فعالیتونو کې له شفافیت څخه ډاډ تر لاسه شي. په ورته وخت کې د متقابلي حسابورکونې د کاري چوکاټ له لارې د په ځان بسیانې سند(SMAF) د افغانستان جمهوري اسلامي دولت پنځه عایداتي وزارتونه مکلفوي، چې د اداري فساد پر وړاندې خپل پلانونه وړاندې او د پلي کولو د پرمختګ راپور یې عامو خلکو ته وړاندې کړي. وروسته د اقتصاد وزارت په ګډون پالیسي جوړونکو وزارتونو ته دنده وسپارل شوه، چې دا لړۍ تعقیب کړي.

د فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډه خپلواکه کمیټه د اداري فساد پر وړاندې د ټولو وزارتونو پلانونه ارزوي او اوس د افغانستان د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان د پرمختګ څارنیز راپور خپروي.

هغه پلان چې د فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې ګډې خپلواکې کمیټې ته ښودل شوی، د څلورو لومړیتوبونو تر عنوان لاندې ۲۴ فعالیتونه لري. د اقتصاد وزارت له فساد سره د مبارزې پلان او په دې برخه کې د شوو پرمختګونو د ارزونې لپاره د څارنې او ارزونې کمیټې ۲۴ مرکې او ګروپي بحثونه د هغو د اړوندو اسنادو له سپړنې او تحلیل سره یو ځای تر سره کړي.

# عمومي موندنې

> د افغانستان اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې د مبارزې د پلان د تطبیق اړوند ډېر پرمختګونه کړي؛ خو لا هم ډېر کارونه پاتي دي، چې باید تر سره شي.

د اقتصاد وزارت د فساد پر وړاندې هر اړخیز پلان جوړ او تدوین کړی، او پدې توانیدلی چې هغه واحدونه او ادارې چې د فساد په وړاندې ډیرې زیانمنونکې دي تر پوښښ لاندې راولي. د پلان ټاکلي موخې له (*SMART*) معیارونو سره سمې چمتو شوي چې د کار د پلان د پلي کولو څخه څارنه اسانه کړیده. د فعالیتونو د پرمختګ اندازه او سنجونه دا په ډاګه کوي، چې د توقع وړ پایلې په یوه ځانګړې کچه تر لاسه شوې دي.

خو د یادولو وړ ده چې د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان د خطر د ارزونې پر بنسټ نه دی چمتو شوی. معمولاً د فساد ضد پلانونه باید د خطر د ارزونې په رڼا کې جوړ شي. په اقتصاد وزارت کې د خطر نه ارزونه د فساد پر وړاندې د مبارزې د یو اړخیز پلان د طرحې او جوړېدو لامل شوې. که څه هم پلان په وزارت کې له فساد څخه د زیانمنو په هکله د ځینو سرچینو موندنو ته اشاره کوي؛ خو دې کار د خطر د ټاکلې ارزونې تخنیکي تشه نه ده ډکه کړې. د بېلګې په توګه د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان کې د مشاورینو د ګومارلو موضوع نه ده راغلې. په نورو وزارتونو کې د څارنې او ارزونې کمیټې موندنې ښیي، چې د مشاورینو د ګومارلو لړۍ د فساد پر وړاندې ډیره زیانمنونکې ده. د فساد پر وړاندې د مبارزې پلان له طرحې او تدوین مخکې، د خطر ارزونې د نشتوالي له امله د وزارت د مشاورینو ګومارلو پروسې یوه ستره پوښتنه رامنځته کړې، چې ایا په اقتصاد وزارت کې دغه واحد زیانمنونکی دی او که نه؟

د اړوند ادارو سره د پلان سمه همغږي یوه بله وسیله ده، چې په یوه اداره کې د پلان د سم او اغیزمن تطبیق ته لاره هواروي. دا کار د اړوندې ادارې د کارکوونکو د مالکیت حس پیاوړی کوي. خو د اقتصاد وزارت پلان له کارکونکو سره په سمه توګه ندی همغږی شوي او په وزارت کې دننه یو شمیر ادارو د داسې یو پلان د شتون په اړه ناخبري ښودلې ده.